مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شکورالرحمان حمیدي

۲۰۲۶/۰۹/۱۵

# د بې وسی پنځوس افغانۍ




نن ورځ د اوړي د سختې ګرمۍ ګرم سهار وو. د کلينيک د دروازې تر شا د ناروغانو ګڼه ګوڼه وه. هر چا د خپل درد کيسه لرله؛ خو زهٔ نهٔ پوهېدم چې نن به د داسې يوه درد شاهد شم چې درمل به يې زما پهٔ لاس کې نهٔ وي.
دروازه ورو خلاصه شوه.
يو هسک، ځوان او پياوړی سړی دننه راغی؛ خو د وجود قوت يې د سترګو لهٔ ستړيا او د مخ لهٔ ژيړوالي مات شوی و. دواړه لاسونه يې پر ملا ايښي وو او پهٔ سختۍ يې قدمونه اخيستل.
ما فکر وکړ درد به يې شديد وي.
پهٔ مات غږ يې وويل:
«ډاکټر صاحب يؤه د درد ستن راته ووهه.»
ما موسکا وکړه او ومې ويل:
اول به وګورو چې ناروغي دې څهٔ ده.
هغه سمدستي وويل:
نه... يؤازې يؤه د درد ستن.
هغه وخت زهٔ نهٔ پوهېدم چې د هغه تر ټولو لوی درد پېښتورګي نهٔ وو.
د هغه تر ټولو لوی درد تش جيب و.
لهٔ خبرو وروسته مې ورته وويل چې معاينات ورته ضروري دي.
هغه غلی شو.
سترګې يې د خونې يوې کونج ته ونيوې.
لکه څوک چې د خپل غرور او اړتيا ترمنځ بند پاتې وي.
بيا يې ورو وويل:
ډاکټر صاحب صرف يؤه د درد ستن راته وکه بيا به څو ورځې وروسته راشم، اوس کار لرم....



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

دنګ قامته ځوان ولاړ.
خو درد يې نهٔ و تللی.
څو ورځې وروسته بيا راغی.
دا ځل يې مخ نور هم ژيړ و.
سترګي يې کښته پکي ننوتي وې او د وجود زور يې درد خوړلی و.
ورته مې وويل:
وروره! تهٔ ولې معاينات نهٔ کوې؟
هغه چوپ شو.
د څو شيبو چوپتيا وروسته يې داسي خبرې وکړې چې تر نن ورځې مې لهٔ ذهنه نهٔ دي وتلي.
ويې ويل:
ډاکټر صاحب! کور کي لس کسيزه کورانی را تر غاړې ده چې ډوډۍ غواړي.
بيا يې پهٔ زوره وخندل.
هغه خندا چې تر ژړا هم دردناکه وه.
کله چې سهار لهٔ کوره راوځم، واړه ورونه مې راپسي ګوري. هغوی نهٔ پوهېږي چې زهٔ ناروغ يم. هغوی يوازې دومره پوهېږي چې مشر ورور به ماښام ته اوړه راوړي.
سترګي يې لهٔ اوښکو ډکي شوې.
مور مې پرون راته وويل چې پهٔ کور کي يوه زره اوړهٔ هم نهٔ دي پاتي.
هغهٔ خپل جيب ته لاس کړ.
پنځوس افغانۍ يې راوايستي.
زړې، تاو شوې او خړې پړې وې.
هغه يې زما مخي ته کېښودې.
دا مې ټولي پيسې دي.
بيا يې سر ټيټ کړ.
اوس تهٔ ووايه، زهٔ معاينات وکړم که خپلو خويندو ورونو ته ډوډۍ يوسم؟
زهٔ غلی شوم.
هغه ورځ ما د طب لهٔ ټولو کتابونو لوی درس واخيست.
ځيني ناروغان د ناروغۍ درمل غواړي؛ خو ځيني ناروغان د ژوند درمل غواړي.
معاينات مې ورته وکړل.
نتيجه ډېره خطرناکه وه.
دواړه پښتورګي يې لهٔ تناکو او سيستونو ډک وو.
د وينې معايناتو ښودله چې د پښتورګو فعاليت يې مخ په ختمېدو دی.
دواه مې ورته وليکل خو مطمين نهٔ وم چې ښهٔ به شي.
ما ورته وويل:
وروره! بايد ژر تر ژره دې درملنه وشي.
هغه موسک شو،عجيبه موسکا يې وکړه.
لکه يو څوک چې پهٔ خپله پايله لهٔ وړاندې پوهېږي.
ويې ويل:
ډاکټر صاحب! که زما د درملني پيسي وای، نو زما کوچنۍ خور به وږې نهٔ ويده کېده او زهٔ به دې حالت ته نه رسيدم
توکل پهٔ خدای، ګوندې دې دواه سره ښهٔ شم.
ورځي تېرېدې؛ خو هغه بيا رانهٔ غی.
زهٔ کله ناکله د هغهٔ پهٔ فکر کي ډوب شم.
شايد روغ شوی وي، شايد بل ځای ته تللی وي.
شايد کومه مرسته ورسره شوې وي؛ خو حقيقت تر ټولو دردناک و.
درې مياشتي وروسته د روغتون مخي ته يو زوړ الټو موټر ودريد.
لړه شيبه وروسته يو ريکشه هم ودريده خويندې ترې راښکته شوې او پهٔ الټو موټر يې ور منډې کړې او د ورو چيغې يې واهلې.
شيبه وروسته يې لهٔ الټو موټر يو ناروغ راښکته کړ، پهٔ بيړه يې عاجل واډ ته يوړ؛ خو ناروغ لهٔ دې بې وفا نړۍ سره خدای پاماني کړې وه، ما چې لهٔ نېږدې ورته وکتل، ساه مې بنده شوه، هماغه ځوان و.
هماغه د پنځوس افغانيو سړی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

هماغه چي د خپل درد پر ځای يي د خپلو ورونو د لوړي غم خوړ.
هماغه چي د مرګ پر ځای يي د کور د نفقي فکر کاوه؛ خو دا ځل يي سترګي نهٔ رپېدي، شونډي يي نهٔ خوځېدي او د درد شکايت يي نهٔ کاوهٔ هغه خاموش و، د تل لهٔ پاره خاموش.
وروسته مي واورېدل چي د مرګ پهٔ وروستئ ورځ هم کار ته تللی و.
حتی هغه ورځ هم چي د درد لهٔ شدته يي ملا نهٔ شوه سمولای.
ځکه که يوه ورځ کار ته نهٔ وای تللی؛ نو پهٔ کور کي به ډوډئ نهٔ وه.
هغه د مرګ تر ورځي د ژوند لهٔ پاره جنګېده؛ خو ژوند ورسره بي وفايي وکړه.
نن هم کله کله د شپي ناوخته د هغه څېره رایاده شي، د هغه ژوري سترګي، د هغهٔ مات غرور، د هغهٔ پنځوس افغانی او د هغهٔ دا جمله:
ډاکټر صاحب... اوس ته ووايه، زهٔ معاينات وکړم که خپلو خويندو ته ډوډئ يوسم؟
هر ځل چي دا جمله رایاده شي، سترګي مي لمدي شي.
ځکه ما يو ناروغ نهٔ و بايللی.
ما يو زلمی ليدلی و چي فقر تر ناروغئ مخکي وژلی و.
ځيني جنازي روغتون ته نهٔ راځي؛ ځيني جنازي کلونه مخکي د بي وسئ، لوږي او مجبورئ پهٔ اوږو پورته شوي وي.
تر ټولو دردناک مرګ هغه نهٔ دی چي سړی پکي ساه ورکړي؛ تر ټولو دردناک مرګ هغه دی چي انسان هره ورځ د خپلو عزيزانو لهٔ پاره لهٔ خپلو دردونو سره مقابله کوي، ان تر دي چي هغه نور لهٔ درونو سره د مقابلي توان ونهٔ لري.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ